مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی
۲۰۲۰/۰۳/۲۰

# غـزل

په خپله وینه قدمونه وهم
تورو تیارو کښې مزلونه وهم

له سیالۍ ووتم، سیالي پاتې ده
د بدرنګۍ په ځان رنګونه وهم

هسکه شمله مې، هسکه نده پاته
هسې پر سر د ویاړ ولونه وهم

ویاړمن سیرت د پلار، نیکه هیروم
په تېر تاریخ باندې داغونه وهم

وې راپسې به د نیکونو ښېرا؟
چې مې پر خپل بدن زخمونه وهم

په پسرلیه زغم د درد ولره
په پرهرو دې مرهمونه وهم

مصطفی پسرلی
19/03/2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ